مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر

۲۰۲۶/۰۵/۲۶

# د خاوري سوداګر

چې د پلار نیکه د خاوري سوداګر سي
سر دې غوڅ په هغه دم لؤ د بزګرسي

چې د خپلو خلکو بده خواره غواړي
هسي کس دې اویزان پر عام ګذر سي

چې لاس ور د یاراني کړي و غلیم ته
هغه دم د قوم تبر څه مرور سي

تر نامرده وطنوال دبنمن بهتر دی
هر نامرد دې غرق لاهو په سمندر سي

چې عزت د پلار نیکه پلوري په خلکو
سر دې غوڅ د ښځ لخوا په پخ تبر سي

چې ځان نه بولي افغان دا افغان نه دی
پر تندي دي يې لیکل په سره سندر سي

مخ دې تورپرخره دی سپورکړي په چکچکو
سر دې مات ور په سوټک د اهنګر سي

تر ډارن زویه لور غیرتي ښه ده
ډارن زوی کښت د غنمو کي شبدر سي

دا د کور وینه (۱) نومیر کړله په ګوته
لعنتي ته دي ښکاره زور د ګګر سي

۱۶- مي -۲۰۲۶
متحده ایالات ، کلفورنیا

(۱) وینه = موریانه ، په کندهاری لهجه کي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ